USCIRF–RECOMMENDED FOR SPECIAL WATCH LIST

د نړیوالې مذهبي ازادۍ لپاره د امریکه د متحده ایالاتو کمیسون (یو اېس سي آی آر اېف) د متحده ایالاتو د فدرالي دولت یو خپلواک او دوه ګوندیز کمیسون دی چې له هیواده د باندې د مذهب یا د عقیدې د آزادۍ د عالمي حق څارنه کوي. په 1998 کې د نړیوالې مذهبي آزادۍ د قانون (آی آر اېف ای) لخوا جوړ شوی یو اېس سي آی آر ایف په خارج کې له مذهبي یا عقیدوي ازادیو د سرغړونو د څارنې لپاره نړیوال معیارونه کاروي او ولسمشر، خارجه سکرتر، او کانګرس ته د پالیسیو د جوړونې لپاره سپارښتنې ورکوي. یو اېس سي آی آر اېف یو خپلواک واحد دی او د متحده ایالاتو له خارجه وزارت بېل دی. د 2021 کلنی راپور د کمشنرانو او د مسلکي کارکوونکو د یو کال د کار پایله ده چې په ترڅ کې یې دوی په نړۍ کې څورزیاتي په لاسوندي توګه راپوځای کړي او اوس د متحده ایالاتو دولت ته د تګلارو په اړه کې خپلواکې سپارښتنې ورکوي. د 2021 کلنې راپور کې د جنورۍ 2020 نه تر د دسمبر 2020 پورې موده شامل کړی شوې، که څه هم په ځینو بېلګو کې له دغه مودې مخکې یا وروسته مهمې پېښې هم یادې شوې دي. د یو اېس سي آی آر اېف په هکله نور معلومات [دلته](#) ترلاسه کړئ، یا د یو اېس سي آی آر اېف سره په 202-523-3240 مستقیم تماس ونیسئ.

## مرکزي موندنې:

په کال 2020 کې، په افغانستان کې د مذهبي خپلواکۍ وضعیت د هیواد د روان سیاسي بې ثباتۍ له کبله هم هغسې منفي میلان لرلو. د مذهب او عقیدې د آزادۍ د خوندیتوب لپاره په دې هیواد کې بې امنیتي یا ناامني د پام وړ ننګونه وه. د 2020 کال په فبرورۍ میاشت کې، متحده ایالاتو او طالبانو یو [موافقتنامه](#) لاسلیک کړه چې په کې د خارجي ځواکونو د وتلو شرط موجود و. د سپټمبر په میاشت کې، افغان حکومت او طالبانو د سولې مذاکرات پیل کړل. لاکن، د مذاکراتو پیل، چې د سولې په لور یو ګام بلل کېدای، په امنیتي وضعیت کې بهتري را نه وستله. د افراطي ګروپونو، چې داعش یا د اسلامي دولت د ډلې د خراسان څانګه او طالبان پکښې د پام وړ دي، په [بریدونو](#) کې زیاتوالي، نه یوازې د افغانستان ثبات او امنیت وګواښلو، بلکې مذهبي اقلیتونه، په ځانګړې توګه د [سکهانو ټولنه](#) چې په افغانستان کې ډېره کمه پاتې ده، د محوه کېدو سره مخامخ کړې. د افغانستان حکومت د هیواد په ځینې سیمو باندې محدود کنترول لري او په کومې سیمو چې کنترول لري هلته د ظرفیتونو د نشتوالي سره مخ دی چې دغه بیا د خلکو د خوندیتوب لپاره د حکومت په هڅو کې خنډ رامنځته کړی.

ملګرو ملتونو (UN) په کال 2020 کې [8820 ملکي تلفات](#) (چې په کې 3035 مړه او 5785 ژوبل شوي) ثبت کړي، چې په دې کې په مذهبي اقلیتونو ځینې وحشیانه بریدونه ترسره شوي. د دولت خلاف فعالین، چې په کې [داعش](#) او [طالبان](#) شامل دي، په دې بریدونو تورن شوي او ځینو په کې د دې وژونکو بریدونو مسؤلیت پر غاړه اخیستلی. د ملګرو ملتونو د راپور له مخې، طالبان د ملکي تلفاتو د 45 سلنې مسؤل دي. خو ولې طالبان دا راپورونه ردوي او د ملکي خلکو په نښه کولو د [مسؤلیت څخه انکار کوي](#)، په ځانګړي توګه په مذهبي اقلیتونو له بریدونو څخه، او [افغان حکومت تور لګوي](#) چې [طالبان اسلامي وسله وال ګروپونه](#) د پراکسیانو په توګه استعمالوي او په دوام سره حکومتي حمایه کوونکي مسلمان مشران، موسسې، او په ټول هیواد کې د نورو مذهبونو مشران په نښه کوي.

که څه هم د مذهبي اقلیت خلاف د دوی بیان رد کړل شوی، [راپورونه](#) څرګندوي چې طالبان اوس هم په دوام سره [مذهبي اقلیتونه وباسي](#) او د اسلامي قانون د خپل سخت دریځه تعبیر له مخې د هغه سیمو کسانو ته سزا ورکوي، چې د دوی تر کنترول لاندې دي. د سولې په اوسني مذاکراتو کې طالبانو په اوسني [افغاني حقوقي سستم](#) کې د شیعه قانون د منلو یا د هغې د اجازې ورکولو څخه انکار وکړ، چې دې په شیعه مسلمانانو کې یې اندېښنه راپورته کړه. کله چې طالبان په قدرت کې و، هغوی به د شیعه هزاره ټولنې سره توپیري چلند کوو او سختې سزاګانې به یې ورکولې او هغوی به یې کافران ګڼل.

که څه هم داعش په کال 2020 کې د سیمې زیاتره کنترول له لاسه ورکړ، خو بیا یې هم په مذهبي اقلیتونه او مسلمانان په نښه کول او دغه نوموړي ډله دا نظر لري چې دا نور له اسلام څخه منحرف شوې دي. د سکهانو او شیعه ګانو د ټولنو خلاف ترهګریز او جنایي بریدونه دوام مومي، چې په کې د هغوی مشران، ګاونډیان، میلې او جشنونه، او عبادت ځایونه په نښه کېږي. د [مارچ](#) په میاشت کې، په کابل کې په یوې ګوردوارې (د سکهانو د عبادت ځای) برید وشو او 25 سکهانو په کې ژوند له لاسه ورکړ – چې په دې کې ښځې او ماشومان شامل ول – چې د دې برید له کبله کم پاتې کېدونکي سکهان له افغانستان څخه وتښتیدل. د مارچ په میاشت کې، [داعش](#) یو ځل بیا د شیعه هزاره مشر، عبدلعلي مرزا، چې په کال 1995 کې طالبانو وژلی و، د جنازې په مراسمو کې برید ترسره کړو چې په دغه برید کې 32 کسان ووژل شول او له 50 څخه ډېر نور ټپیان شول. د [نومبر](#) په میاشت کې، په شیعه ولایت کې د داعش له خوا ځای پر ځای شوي د سرک دوو بمونو 14 کسان ووژل او 45 نور یې ټپیان کړل.

د مۍ په میاشت کې، ترهګرو په کابل کې د هزاره اقلیت په سیمه دشتې برچي کې د [حاملګۍ په روغتون](#) برید وکړ. په دغه برید کې له 20 څخه زیات کسان ووژل شو، چې دوه نوي زیږیدلي ماشومان په کې هم شامل و، چې له امله یې بې پولې ډاکټرانو / [Médecins Sans Frontières](#) خپل د ډېرې مودې فعالیتونه بند کړل او روغتون یې پرېښودلو. د اکتوبر په میاشت کې په یوه بله پېښه کې یو ځان وژونکي بریدګر د کوثر دانش مرکز، چې دا د شیعه په هزاره سیمه کې د [زده کړې یوه موسسه](#) ده، مخې ته په کوڅه کې ځان ته چاودنه ورکړه، چې په لسګونو زده کوونکي یې ووژل.

## د متحده ایالاتو دولت ته سپارښتنې

- چې افغانستان د نړیوال مذهبي خپلواکۍ د قانون (IRFA) سره سم د مذهبي خپلواکۍ د سختو سرغړونو د مرتکب کېدو یا د زغملو له کبله د بهرنیو چارو وزارت د ځانګړي څارنې په لیست کې شامل کړي، او په دوام سره طالبان او ISKP د مذهبي خپلواکۍ د منظم، دوام لرونکي او سختو سرغړونو له کبله ((د ځانګړي اندیښنې وړ وګرځوي))، لکه څنګه چې په IRFA کې ورکړل شوې دي،
- د طالبانو او افغان حکومت ترمنځه په راتلونکي خبرو اترو کې د هغوی د مذهب یا عقیدې د خپلواکۍ خوندیتوبونه یقیني وګرځوي او د افغان سیاسي مشرانو ته د مذهبي خپلواکۍ او عمومي امنیت د نړدې تړاو لرلو په اړه تاکید وکړي،
- د مذهبي خپلواکۍ اندیښنې بشپړې کړي، چې په دې کې د عبادت د ځایونو نیولې تر د تروریزم سره د مبارزې لپاره مرسته او د روزنې پروګرامونه شامل دي، چې د دې تمرکز په فرقوي تاوتریخوالی حل کولو، او د بهرنیو چارو وزارت، د نړیوال پرمختګ لپاره د متحده ایالاتو اژانس (USAID)، میلینیم چیلنج کارپورېشن، او د متحده ایالاتو د دفاع وزارت له خوا تمویل شوي قانون او نظم تقویه کولو وي،
- د افغانستان د زده کړې او پوهنې، معلوماتو او کلتور او حج او مذهبي چارو وزارتونه دې یقیني کولو ته وهڅوي چې په نصابي او درسي کتابونو او زده کړه کې داسې نه زغمل کېدونکي پروپاګند وړاندې نه کړي چې مذهبي اقلیتونه بدنام کړي او دغه وزارتونه باید د ټول افغانستان د مذهبي مشرانو او سکالرانو ترمنځ ټولنیز مذهبي زغم او برداشت ته د پرمختګ ورکولو لپاره د همکارۍ په برخه کې کار وکړي.

د متحده ایالاتو کانګرېس یا ولسي جرګه باید:

- په افغانستان کې د مذهبي او عقیدوي خپلواکۍ د خوندیتوب لپاره بودجه وټاکي او د افغانستان د بیاودانۍ لپاره د ځانګړي انسپکټر جنرل سره په همکارۍ د دغه لګښتونو د فعالیتونو او اړوند پروګرامونو څارنه کوي.

### د USCIRF مهمې سرچینې او فعالیتونه

- **مطبوعاتي بیان:** USCIRF Strongly Condemns Terrorist Attack against Sikh House of Worship in Kabul

### شالید

افغانستان د بېلا بېلو توکمیز ډلو ګډ کور دی چې په کې پښتانه (42 سلنه)، تاجک (27 سلنه)، هزارهګان (9 سلنه)، ازبک ( 9 سلنه)، ترکمن ( 3 سلنه)، او بلوچ (2 سلنه) دي. افغانستان په تاریخي توګه د متنوع مذهبونو کور پاتې شوی دی، خو، کله چې په کال 1996 کې طالبانو حکومت په لاس کې واخیست، د غېر مسلمو یو پراخ اکثریت له هېواده وتښتېد. د هندوانو او سکهانو نفوس، د مثال په توګه، د 1990 لسیزې په لومړۍ کې له 220,000 څخه تر ننه پورې شاوخوا یو څو سوو ته راټیټ شو. د افغانستان اوسنی نفوس شاوخوا 99.7 فیصده مسلمانان (84.7-89.7 فیصده سنیان او 10-15 فیصده شیعه ګان، د اسماعیلیانو پشمول دي)، په داسې حال کې چې غیرمسلمه (هندوان، سکهان، باها، عیسایان، بودایان، زورویستریان او نور، پشمول د یو یهود) پاتې 0.3 فیصده دي.

د افغانستان د 2004 په اساسي قانون کې اسلام د دولت رسمي مذهب تسلیم شوی دی او د ټولو پارلماني قوانینو څخه دا غوښتنه کوي چې د اسلامي اصولو درناوی کوي او تعلیمي نصاب باید د اسلام د مذهب پر اساس وي. سرببېره پردې، د اساسي قانون له مخې به محکمې په حنفي شریعه د قوانینو په سستم هغه وخت تکیه کوي، کله چې په اداره کېدونکي اساسي قانون کې څه نیمګړتیا وي، خصوصاً په داسې موضوعاتو کې چې د غیر مسلم له خواو د ګستاخۍ یعني کفر سرغړونه کېږي (د مرګ د سزا پورې مشروط)، خپل دین بدلوي او بل دین ته اړوي. په کال 2009 کې د شیعه د شخصي وضعیت قانون شیعه مسلمانانو ته دا اجازه ورکړه چې د خپل قانون، یعني جعفري قانون مطابق د هغوی قضاوت کېږي.

په کال 2001 کې د طالبانو د حکومت د رانسکوریدو وروسته مذهبي اقلیتونه ورو ورو په دې ټولنه کې ځان ته ځای برابروي. د شیعه مسلمانانو اقتصادي او سیاسي وضعیت ښه شوی دی، چې په حکومت، رسنیو او شخصي صنعت کې د یادې ټولنې غړي مهم موقفونه لري. سرببېره پردې، هندوان او سکهان د کال 2016 راهیسې په پارلمان کې په ټاکل شوې سیټ ځای پر ځای کړی شوي دي او ځینې په حکومتي موسسو کې استخدام شوې دي. سره له دې استازیتوب څخه، هندوان او سکهان د منظم تبعیض، توپیري چلند او مخ پر زیاتیدونکي تاوتریخوالي سره مخ دي.

### د سکه او هندو ټولنې هیواد پرېښودل

د افراطیانو له خوا د ټولنیز تبعیض او توپیري چلند له کبله سکهان او هندوان ځورول کیږي او هغوی د فزیکي بریدونو، تښتونې، په زور د ملکیت اخیستلو، لوټلو او مذهب بدلولو له ګواښونو سره مخ کیږي. د پورتني پېښو سربېره، د جون په میاشت کې، افراطیانو د سکه ټولنې یو مشر نیدان سنګه سچدېوا په پکتیا ولایت کې د تالا ګورو نانک صاحب د ګوردوارې څخه

وتښتولو. د حکومتي فشار له امله سچډېوا خوشې کړی شو او هغه د افغان سکه او هندو غړیو په لومړي هغه ګروپ کې و چې په کال 2020 کې ورته په هند کې د قانوني داخلې اجازه ورکړل شوه.

د 1990 لومړي کلونو څخه تر کال 2019 پورې د [هندوانو او سکهانو آبادي](#) د شاوخوا 250,000 څخه 1,000 ته راټیټه شوه. کله چې په کال 2020 کې په کابل کې په ګوردواره برید وشو او سچډېوا وتښتول شو، دغه شمیر تقریباً 200 کسانو ته راټیټ شو، چې دغه مخکینی فعاله ټولنه تقریباً ختمیدو له راغله. د وسله والو ګروپونو له خوا د سکهانو او هندوانو د ټولنې په مشرانو او عبادت ځایونو د بریدونو او د امنیت او [خوندیتوب](#) د کمي له کبله د دغه ټولنې کسان [تر فشار لاندې دي چې افغانستان پریږدي](#).

### د نورو مذهبي اقلیتونو مخ پر زیاتیدو ویره او اندېښنه

که څه هم د افغانستان د اساسي قانون له مخې د اسلام پرته د نورو مذهبونو پیروکاران کولای شي چې د قانون په حد کې د خپل مذهب پیروي وکړي، خو ولې له اسلام څخه بل مذهب ته اوړیدل مرتدوالی یا [کفر](#) ګڼل کیږي. د دې جرم سزا مرګ، قید، د ملکیت ضبط کیدل یا د افغان حکومت د سني اسلام د حنفي قانون له مخې له هیواد څخه شړل کیدی شي، چې د اساسي قانون له مخې دغه سزاګانې تطبیق کیدی شي که چیرې د قانون اړوند برخه نه وي. د عیسایانو، بهایي او احمدیه مذهبي ټولنو لږ شان خلک هم د سزا او انتقام له ویرې پټ پاتې کیږي. په کال 2020 کې، له بیلابیل فاکتورونو له کبله په مذهبي اقلیتونو کې ویره زیاته شوه، چې په دې کې د متحده ایالاتو په پوځ کې کموالی، په منظم ډول تاوتریخوالی، او د حکومت په خپله خاوره د [کنترول کمی](#) شامل دي.

په کال 2007 کې، د فتوی عمومي مدیریت او ستري محکمې بهایي مذهب د مذهب سپکوونکی وګرځولو. د دغه قضاوت څخه وروسته بهایي ټولنه په دغه هیواد کې پټ ژوند کوي. د سرچینو له مخې، په کابل کې د احمدي مذهب شاوخوا 450 کسان اوسیږي. که څه هم د افغان اساسي قانون په قانوني توګه احمدیه مذهب غیرمسلم نه ګڼي، خو زیاتره افغان مسلمانان دغه مذهب کفري مذهب ګڼي.

د مسلمانانو [عیسایيت ته د اوړیدلو](#) قضیې ډیرې کمې دي، خو عیسایي [موسسې](#) وایي چې د اسلامي افراطیت، له کورنۍ او ټولنې څخه ویستلو، توکمیز نفرت او د هغه کسانو لپاره رسمي پاليلې چې د مرتد کیدو تور پرې لګیدلی وي، له کبله هغوی محدود کړل شوي دي. ټولنه او دولت د دین بدلولو مثالونه داسې څرګندوي چې دغه کسان د لویدیځ د خواخوږۍ له لارې د سیاسي پناه لپاره له افغانستان څخه د تښتیدو هڅه کوي.

### د متحده ایالاتو ستره پالیسي

د فبرورۍ په میاشت کې، په افغانستان کې د متحده ایالاتو د حکومت د مداخلې 20 کاله وروسته، د هغه وخت ولسمشر ډونلډ جې ټرمپ د طالبانو سره د سولې هوکړه لاسلیک کړه او دا خبره یې په کې تسلیم کړه چې د 2020 کال د مې میاشتې پورې به متحده ایالات په بشپړه توګه له دغه هیواد څخه ووځي. په دغه هوکړه کې له طالبانو څخه هم وغوښتل شول چې د ترهګریز ګروپونو سره اړیکې پرې کړي، تاوتریخوالی کم کړي او د افغان حکومت سره مذاکرات پیل کړي. د 2021 کال د [جنورۍ](#) پورې، په افغانستان کې [د متحده ایالاتو 2500 عسکر](#) موجود دي، چې په دې کې 6346 د متحده ایالاتو قراردادیان هم دي. [طالبانو](#) د ولسمشر جوزیف آر بایډن له حکومت څخه غوښتنه کړې چې د تیر شوي حکومت د ژمنې درناوی وکړي، خو ولې د سولې په مذاکراتو کې ځنډونه، په تاوتریخوالي کې زیاتی، د طالبانو د وسله والو موسسو سره د اړیکو لرلو راپورونه او د داعش موجودیت [نوی حکومت](#) دې ته اړ کړی چې د دغه هیواد څخه په بشپړه توګه د وتللو په هکله بیا پام وکړي.

په کال 2020 کې متحده ایالاتو شاوخوا [1.1 ملیارده ډالره](#) مرسته افغانستان ته ورکړه، که څه هم د 2020 کال په نومبر کې په جنیوا کنفرانس کې د مرستې په کموالي موافقه شوې وه او متحده ایالاتو ویلې و چې په راتلونکي کې به [مرسته د سولې د مذاکراتو او بشري حقونو د خوندیتوب سره مشروط](#) وي.

په 2 دسمبر، د بهرنیو چارو وزارت طالبان د EPC په توګه [وټاکل](#)، چې لامل یې په ځانګړي توګه د مذهبي خپلواکۍ جدي سرغړونې وې. د داعش او EPC ټاکل بیا نوي نه کړل شو، ځکه چې د بهرنیو چارو وزارت دا [تصمیم ونیولو](#) چې دې د هغه سیمې کنترول له لاسه ورکړي چې مخکې یې لرلو.